DAILY
اراده
د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپانه

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ.ش

سال سوم شماره یکصدوچهل وپنجم
شماره مسلسل ۲۲۵
چهارشنبه ۱۸ سرطان ۱۳۸۲ هـ.ش
۹ جمادی الاول ۱۴۲۴ هـ ق
9 July 2003

PROPERTY OF ACKU



دپاکستان دسفارت دپیښې په اړه دافغانستان رسمي دریځ



دپرونیو مظاهرو نه وروسته مازدیګر دافغانستان دانتقالي دولت مشر ښاغلي حامد کرزي په یوه خبري کنفرانس کې دپاکستان په سفارت تېری سخت غندلی او په ډاګه کړې یې ده چې دادملي ګټو ددښمنانو طرحه وه. ده وویل چې افغانستان کله هم دګاونډیانو سره داړیکو کمزورتیا ته لیواله ندی او افغان دولت به تل بهرنیو میلمنو ته درناوی ولري او په هیڅ صورت کې به له دیپلوماتیک حریم نه تجاوز ونکړي. دغه راز ښاغلی کرزی ژمنه وکړه چې سفارت ته داوښتو زیانونو جبران به کوی دهغه دکارکونکو امنیت به وساتی اوپاکستان ته یې د ډیرو توضیحاتودورکولو لپاره تیاری ښودلی دی چې ددې په څنګ کې یې دپرویز مشرف دهغه وینا دسپیناوی غوښتنه هم وکړه چې خو ورځې وړاندې دافغانستان دچارو په اړه کړې وه. اوسم لاسي یې په دغه هیواد کې عامه ذهنیتونه پارولي دي.

دیوه وزوستي خبرله مخې حامد کرزی دپاکستان له ولسمشر پرویز مشرف سره دتلیفونی تماس په ترڅ کې دپرونی پیښې په اړه خپل دخواخوږی مراتب وړاندې کړي اودا ناوړه پیښه یې دافغانستان او پاکستان ددښمنانو کار بللی دی.

دپاکستان په وړاندې ددوهمې وړځې مظاهره

یوه لویه مظاهره چې د ګډون کوونکو شمیر یې نږدې زرو تنو ته رسیده دافغان ملت دګوند له خوا تنظیم شوې وه چې په هغه کې یو شمیر نورهم ډلو ګډون کړی وو.

دغه ګڼ شمیر قهریدلی خلک پرون دکابل دپښتونستان په څلور لارو کې راغونډ شوي وو اودپاکستان پرضد یې شعارونه ورکول. دوی، ادعا درلوده چې هیواد یې دپردیو دیرغل لاندې راغلی دی او ناري یې وهلې چې دخپلې خاورې دساتنې لپاره په هر قیمت حاضر دی دغو خلکو په خپل اعتراض کې له احساساتو څخه کار نه اخیست. دافغان ملت ګوند مشر اود افغانستان بانک رئیس داکتر انوارلحق احدی وویل چې پاکستان بایدزرترزره خپل پوځونه شاته کړئ اوددواړو ګاونډیو هیوادو دبیا دوستانه اړیکو غوښتنه یې کوله، نوموړی دغه راز دستونزې دزر هواری هیله څرګنده کړه.

سفارت پاکستان در کابل بسته شد

پاکستان سفارت خود را در کابل، بست.

این اقدام پس از آن صورت گرفت که صدها نفر با چوب و سنگ به ساختمان سفارت پاکستان در کابل حمله و بخش هایی از آن را تخریب کردند.

وقتی مامورین امنیتی سعی کردند جمعیت را متفرق کنند، تعدادی زیادی از افراد پولیس و همچنین تعدادی از معترضین مجروح شدند.

مهاجمان شیشه کلکین ها را شکستند، اتاق ها را غارت و تجهیزات کامپیوتری را خراب کردند.

رستم شاه مومند، سفیر پاکستان در کابل گفت وی دولت افغانستان را در این مورد مسوول می داند.

وی گفت اظهارات اخیر مقامات بلندپایه افغانستان از جمله حامد کرزی، رییس جمهور این کشور که طی آن پاکستان را به مداخله در امور داخلی افغانستان متهم کرده بودند، زمینه این حمله را فراهم آورد.

درستم شاه مهمند څرګندونې

دهغې مظاهرې له وجې چې دسه شنبې په ورځ یې دپاکستان په سفارت هجوم وروړ هغه ودانی ته مالی زیان اوښتی دی. له همدې پیښې نیم ساعت وروسته په افغانستان کې دپاکستان سفیر رستم شاه مهمند اعلان وکړ چې دوی د پاکستان سفارت پدغه هیواد کې ترڅو دی. نوموړي په ډاګه کړه چې دوی به تر هغه خپل سفارت نه پرانیزی څو افغانی مقامات رسمی بخښنه وغواړی، سفارت ته داوښتی زیان تاوان ورکړی او دراتلونکی لپاره د سفارت دامنیت تضمین وکړي. دغه راز رستم شاه مهمند ویلی چې پاکستانی سرتیری یوه لویشت هم د افغانستان خاورې ته ندی داخل شوی بلکه دغه فعالیتونه یې دامریکا افغان حکومت او پاکستانی چارواکو دګډو مشورو په ترڅ کې دالقاعده او طالبانو پاتې شونو پسې دپلټنو بهیر وبالله.

دپاکستان سفیر داهم وویل چې دغه له خشونت نه ډکې مظاهرې دافغان ولسمشر کرزی دهغه ونیاوو نتیجه ده چې دړې ورځې وړاندې یې په هغه کې پاکستانی مقامات د افغانستان په چارو کې په لاس وهلو تورن کړل. دغه راز ده زیاته کړه چې دامنیتی چارواکو نه دی غوښتې چې د دا ډول ناوړه اعتراضونو څخه مخه ونیسي.

حمله بر سفارت پاکستان

در ادامه عکس العمل ها به اظهارات مقامات پاکستانی در باره مسایل داخلی افغانستان و تقبیح تخطی مرزی توسط عساکر پاکستانی در سرحدات افغانستان جمع کثیری از محصلین قبل از ظهر دیروز مظاهره اعتراض آمیزی را در مقابل سفارت پاکستان در منطقه وزیر اکبر خان راه اندازی نمودند، این جمعیت که به وسیله موتر ها انتقال شده بودند در حالیکه خشمگین به نظر می رسیدند به سر دادن شعار های بر علیه مقامات حکومت پاکستان اظهارات رئیس جمهور آن کشور جنرال پرویز مشرف را در مورد مسایل داخلی کشور افغانها محکوم کردند، آنها همچنین آنچه را که تجاوز عساکر پاکستانی به سرحدات افغانستان می خواندند محکوم کرده و خواهان اقدامات جدی از سوی دولت افغانستان شدند.

جمعیت محصلین خشمگین با تجمع در مقابل سفارت پاکستان به ساختمان آن حمله ور شدند و با پرتاب سنگ و چوب خشم و نفرت شان را تبارز دادند، در حالیکه مقامات امنیتی تلاش داشتند وضعیت را کنترول نماید اما تعدادی از تظاهر کننده گان از دیوار های سفارت بالا رفته، علاوه بر اینکه بیرق پاکستان را با آتش کشیدند داخل محوطه سفارت شده و به تعمیر سفارت خساراتی را وارد ساختند.

سرمقاله

سیاستها و برخورد های دوگانهء سیاسی مردم و مطبوعات را دچار سوء تفاهم میسازد

پیشروی ملیشه های پاکستانی به داخل خاک افغانستان و بیانیهء تلویزیونی آقای حامد کرزی به مناسبت گشایش مرکز بین المللی مطبوعات در کابل که طی آن پیشروی ملیشه های پاکستانی را محکوم کرد و آنرا تجاوز به خاک افغانستان خواند و نیز به برخی از اظهارات پرویز مشرف که در هفتهء گذشته در جریان سفرهای خویش در اروپا و امریکا ابراز داشته بود، اشاره کرد و آنرا نوعی مداخله در امور داخلی افغانستان تلقی کرد، در نتیجه مظاهراتی در شهر کابل برگزار شد، وعده یی در برابر سفارت پاکستان تجمع کردند و باورود به داخل سفارت به شکست و ریخت وسایل و شیشه و دروازه پرداختند.

بدنبال آن سفیر پاکستان با برگزار کردن یک کنفرانس مطبوعاتی تجاوز بر حریم افغانستان را رد کرد و ضمناً تصریح نمود که نیروهای پاکستان در همکاری با قوای امریکا و در چوکات یک قرار داد سه جانبهء میان افغانستان، امریکا و پاکستان در جستجوی عناصر القاعده است...

با این توجیه، این پرسش به میان می آید که اگر چنین قراردادی به امضا رسیده بین چه کسانی و در کجا و در تحت چه شرایطی صورت گرفته است. ازین گذشته چگونه جناب آقای کرزی رئیس دولت انتقالی اسلامی در جریان این موافقتنامه قرار داده نشده است.

آنچه بیشتر از همه پرسش برانگیز است، این مسأله است که امریکا به عنوان یکی از طرفهای عقد این موافقتنامه که مسلماًمسوول تضمین سرحدات افغانی و تمامیت ارضی کشور است، نسبت به این امر که از دو هفته به اینسو در حال اوج گرفتن بود و به نقطهء انفجار نزدیک میشد، هیچگونه واکنشی نشان نداد و نسبت به عواقب و تأثیرات آن که بدون شک بر موجودیت خودش در افغانستان و در افکار عامه جهان نیز بی اثر نخواهد بود، هیچ نوع تفاهمی با مسوولین دولت افغانستان نداشته است.

بقیه ص ۴

اظهارات سخنگویان افغانستان و پاکستان

مقامات کشور های پاکستان و افغانستان در گیری های اخیر را در مناطق سرحدی این دو کشور تایید کرده اند، جاوید لودین سخنگوی دولت افغانستان گفته است: تبادله آتش در منطقه سرحدی افغانستان و پاکستان صورت گرفته و هیأتی از سوی دولت افغانستان جهت تحقیق قضیه عازم ولایت ننگرهار شده اند همچنان آقای مسعود زمان سخنگوی دولت پاکستان ضمن تأیید این موضوع گفته است نیروهای پاکستانی داخل خاک افغانستان نشده اند.

این درحالیست که آقای لودین گفته است اگر پاکستان دست ازین اعمال نکشد، دولت افغانستان عکس العمل شدید دراین رابطه از خود نشان خواهد داد.

چرا بار بار و هر بار از پشت و پهلو خنجر میخوریم
ص ۲
اعلامیه محاذ ملی اسلامی افغانستان
ص ۴
جوانی مانع غارت یک منزل رهایشی در مکروریان شد
ص ۴

صلاح الدین

چرا بار بار و هر بار از پشت و پهلو خنجر میخوریم

اظهارات نماینده سیاسی پاکستان در کابل رامبنی بر اینکه تحرکات موجود در نوار مرزی افغانستان و پاکستان بر اساس موافقت نامه سه جانبه ای صورت پذیرفته که هدف آن جلوگیری از فعالیت های بقایای سازمان القاعده و طالبان در منطقه بوده که دراسلام آباد پاکستان با شرکت آقای زلمی رسول مشاور امور امنیتی دولت افغانستان عقد گردیده است، چگونه می توان توجیه کرد. آنهم در شرایطی که جانب افغانی از رئیس دولت و وزارت های دفاع و خارجه تا والیان ولایات هم مرز با پاکستان د راین باره و در مورد این موافقتنامه لب از لب نگشوده اند و آقای زلمی رسول که اشتراکش در مراسم عقد موافقت نامه ادعا شده فعلاً در لندن تشریف دارند، چطور امکان خواهد داشت که آقای مشاور امنیتی دولت از چنین فیصله حیاتی که سرنوشت میلیونها انسان متوطن در دو طرف خطوط مرزی به آن بستگی دارد و روابط دو کشور همسایه و مسلمان را به تیره گی می کشاند دولت متبوعش را باخبر نساخته است نکند که اینبار باز هم دیگران بوده اند که در غیابت و نیابت از ملت افغان بر موافقت نامه یاد شده مهر تایید گذاشته اند که در این صورت هم باید جانب افغانی در جریان قرار داده می شد و اگر روی دولت افغانستان حساب نشده چطور قابل پذیرش خواهد بود مقامات ممثل دولت درافغانستان نخواسته اند از طرفین عقد موافقتنامه خواستار توضیحات شوند پس واقعیت چی است وطرح در حایشه گذاری ما از کجا آغازیده؟ همزمان با سفر آقای مشرف رئیس جمهور پاکستان به ایالات متحده امریکا و ملاقات های او با رهبران امریکا بخصوص آقای بوش در کمپ دیوید، اطلاعات تایید ناشده یی حلقات خبری را دور میزد که گویا آقای مشرف بادرنظرداشت حساسیت های موجود، مشکلات سیاسی و

هم تأمین منافع کشور و تحقق آروزهای حکومتش پیشنهاد نموده تا بجای عساکر امریکایی در عملیات نظامی بخاطر سرکوبی بقایای تروریزم در نوار مرزی افغانستان و پاکستان که وی بار بار آن ساحات را خارج از اداره حکومت مرکزی پاکستان خوانده است از ملیشاهای پاکستانی استفاده شود، این پیشنهاد با چنین باز و بدون چون و چند از سوی آقای بوش که تلفات جانی نیروهایش در عراق فشار روز افزون ناشی از آرای عامه جامعه امریکایی را بر شانه هایش احساس می نمود منظور گردید و بخاطر انجام کار های مقدماتی مقامات با صلاحیت صوبه سرحد دید و بازدید های را با باشنده گان نوار مرزی راه اندازی کرده و وعده های چرب و گرمی نیز سپرده اند اینکه جانب پاکستانی از مفاد این موافقت نامه چگونه استفاده نموده وبجای مناطقی که حضور نیروهای القاعده و طالبان را در آن منابع استخباراتی جهان آدرس میدهند، ساحات دیگری را در طول مرز انتخاب و سنگر بندی نموده است حرف جدا است اما گله و شکوه آقای حامد کرزی از کشور های غربی و اسلامی و بخصوص دوست نزدیکش آقای مشرف و اخطاریه شدید الحن شان مبنی بر اینکه بر سر این کشور (افغانستان) معامله یی رنگ نمی گیرد نه تنها کاسه های زیر نیم کاسه را هویدا ساخت بلکه برموثق بودن آن اطلاعات نشئت کرده از حصار های کمپ دیوید هم صحه گذاشت. اظهارات بی سابقه آقای کرزی طی بیانیهء اخیر شان در مراسم افتتاح مرکز بین المللی مطبوعات در وزارت اطلاعات و فرهنگ گرچه از ضعف و بی خبری رنج آور تیم مطبوعاتی ایشان پرده بر میداشت اما این واقعیت را هم هوشدار میداد که باز هم می خواهند سرنوشت مانرا به دست ناظرانی بسپارند که هنوز زخم های وارده از دست های شان در پشت و پهلوی های مان التیام نیافته است.

و آنچه تنهایی آقای کرزی را در این قیام آفتابی ساخت سازماندهی و تحرکات عاقبت نیاندیشانه افراد خاص در بطن حاکمیت موجود است که آگاهانه یا نا آگاهانه کار را به رسوایی کشانید و سر بلندی را که با متانت حفظ تمامیت ارضی و استقلال کشورش را وجیبه ملی اعلام داشت مجبور به عذر خواهی کرد. ویکبار دیگر از پشت واز پهلو نامردانه خنجری حوالت مان کرد.

دوسله سالارانو بې وسلې کول دامنیت دراتګ زیری

ثابلد

د مرکزی اداري دپیاوړتیا اوټینګښت لپاره او په ټول هیواد کې دهمدغې اداري دموجود کمزوری رول دله منځه وړلو اود یوه جدی او غوځ حرکت او خوځښت په لاره کې چې کومې ستونزې موجوددې هغه دهیواد په مرکز اوولایاتو کې له وسلې سالارانو سره دوسلو شته والی دی.

همدغه پریمانه خوری وری وسلې دي چې په هیواد کې یې دآزادی له ورکړې سره سره بیا هم دخلکو په ستونې کې دحق ا ود هیواد په کلتوری چوکاټ کې دننه هم ددموکراسی دغوښتلو اواز خپه کړي دی دښن په کنفرانس کې هم دې ټکی ته اشاره شوې وه چې باید وسله راټوله او په اردو کې دبیا جوړونې له پاره نوی نظر وشي اودا موضوع یې دپریکړو په لست کې دننه کړی وه لس میاشتې وشوې چې دبې وسلې کولو بهیر پیل شوی دی اودادی اوس نور هم دیوې میاشتې لپاره دبې وسلې کولو بهیر ځنډ شو.

ټریوال دغه بهیر دچټکتیا اوپه هیواد کې دګډوډی او سرزوری دبیارامنځته کولو دمخنیوی لپاره د ۱۳۰ میلیونو امریکایی ډالرو دورکړې ژمنه وکړه چې یوازې ۳۰ میلیونه ډالره دجاپان دولت په غاړه واخستل خود جاپان سفیرپه مزار شریف کې دا مرسته هغه وخت دورکړې لپاره لازمه وبلله چې ددفاع وزارت په کلیدی څوکیو کې بدلونونه راشي.

دبی وسلې کولو دبهیر تولې ستونزې په همدې کې پټې دی چې زمونږ په مرکز او ولایتونو کې چې کوم کسانو ته مونږ وسله سالار وایو او کومو ته چې مونږ توپکیان وایو دهغو زیاتره نن سبا دهمدغې اردو په اوسنی پراخه اوبې ضرورته تشکیل کې په کلیدی او خاصو څوکیوکې دنده اجراء کوي.

دبې وسلې کولو دبهیر په چټکتیا کې تولې ستونزې همدوی رامنځته کړي دی عوام خلك چې په کورونو کې دکومې انفرادی ساده کلاشینکوف درلودونکی دی هغوی هیڅکله نشی کولای چې دمرکزی د ولت داوامرو په وړاندې ودریږي.

اوس چې یوه میاشت وروسته داړوند کمیسیون له خوا دوسلو دټولولو او راجستر کولو او ځینو قوماندانانو ته دوظیفو اویا اغزازی رتبو او امتیازاتو دورکولو پروګرام په پام کې نیول شوی.

ددغه پروګرام له تائید سره سم داپوښتنې هم راپیدا کیږي چې دبې وسلې کولو پدې پروګرام کې به څومره باور موجود وی چې یو وسله سالار ټوله وسله کمیسیون ته سپاري. اوددوی له جملی څخه به کوم کسان داردو په نوی تشکیل کې راونیول شي پداسې حال کې ددوی اکثره یا دمسلکی زده کړو څښتنان نه دی اویا هم سواد نه لري.

دننني نړۍ موجوده شرایط دنوی اردو په دننه کې دنوو مسلکی ا فسرانو دشته والی غوښتنه کوي ایا اړوند کمیسیون به وتوانیږي چې د اردو لیکوته موجوده ورځ او مسلکی قوماندانان وردننه کړی او نورو ته ځواب ورکړی حال دا چې هغوی خپلې څوکۍ نه خوشې کوي. نن سبا د بې وسلې کولو دبهیر په لاره کې همدغو قوماندانانو خنډونه رامنځ ته کړی دی ا وخپلې څوکۍ یې تپنګې کړی دی که دوسلو په مقابل کې دوی ته پیسې ورکړل شي په حقیقت کې مو نور هم په پښو ودرول اوله امکان څخه لرې نه ده چې ډیره وسله پټه اودخپلو وسلو په واسطه ډیر ځوانان دخپل ځان ترځنګ ودروي اوپه مخالفت لاس پورې کړی که چیرې دولت غواړی چې په ریښتینی توګه خپله اردو پاکه او دمرکزی امردمنلو لپاره یې تیاره کړي لازمه ده چې دجهاد دوخت ټولو مسلکی اومنلو افسرانو ته داعزازی امتیازاتو په ورکولو سره اقدام وکړی او دنوی اردو دجوړولو په برخه کې نوی مسلکی کادرونه په وظیفو وګماري اودغه کمپاین په کلکه پرمخ بوځي.

وظیفې دلته اوکورونه هلته

سمله وال

داسې څرګندیږي چې لاتر اوسه پورې زمونږ په دې وران او زمونږ په خپل لاس وران شوی وطن کې دسولې او ثبات له پاره زمینه برابریږي اولاتر اوسه پورې زمونږ دځینو مشرانو زړه په دې وطن کې په ارامه شوې نه دی دوی په دې باوردي چې نن دی که سبادی دغه ځوکۍ اودغه امتیازات به زمونږ په واک کې نه وی دوی پدې باور دی چې په افغانستان کې آدچاخبره باچا ګردشی ده نن مو واک په لاس کې دی قدرت راسره دی او سبا به نه وي دوی په همدغه عقیده دی او په وطن کې ډاډه امنیت اودیوه مرکزی باثباته دولت دجوړولو او رامنځته کیدلو په شته والی باندې لاباوری نه دی همدا وجه ده چې له لوړوځخه تر رئیسانو پورې د ډیرو کورونه په بهر کې دی خپله افغانستان کې وظیفې سرته رسوی دوظیفو ترځنګ یې خپل بچیان په بهر کې کینولی دي دلته له چارواکو زیات شمیر داسې کسان شته چې درشوت اختلاس اونورو غیری قانونی عوایدو په ترلاسه کولو کې له هیڅ ډول رحم څخه کار نه اخلی او په بهر کې دلاشتمن کیدو له پاره هڅه کوي.

دیوه داسې غریب هیواد له پاره چې خو لسیزې یې په جګړو کې تیرې کړي دی او اوس نوی دژوند په لوری په داسې حال کې ګامونه پورته کوی چې ټول په هره برخه کې وران شوی دی اوزمونږ داځینې مشران لا اوس هم اصلا ددې وران وطن سره مینه اومحبت نه لري که چیرې یې په ریښتینی توګه له دې وران وطن سره دخدمت روحیه درلودلی نولازمه وه چې په لومړی ګام کې یې دانتقالی دورې دمشر حامد کرزی په خیر خپل کور راوستی وی اوپه همدې وران وطن کې له خپلو وطنوالو سره یو ځای اوسیدلی وای: مونږد ځینو رئیسانو اووالیانو آن چې تردې ځینو لوړو چارواکو کورونه چې په بهر کې دی او یوه پښه یې دلته اوبله یې په بهر کې ده او په خپل سر دخپلو پاسپورټونو په واسطه پرته له دې چې دخلکو کارونه اوددی ورانې ټولنې له خوا ورسپارل شوی مسوولیت په پام کې ونیسي بهرته روان وی اصلاً داسې اشخاص دوطن او خلکو په مقابل کې دمسوولیت احساس نه لري هیڅکله نشی کولای چې مونږ ته اودې وران وطن ته خدمت وکړي.

دا هغه ستونزې دی چې دلوړو اومسوولو مقامونو له خوا ورته جدی پاملرنه وشي زمونږ دهغو چارواکو چې کورونه یې په بهر کې وي دا کار دنورو افغانانو لپاره چې په بهر کې اوسیږي په هیواد کې دامن اوامنیت دنشتوالی اودراتلونکی ناوړه برخلیك په اړه عقیده پیاوړی کوی او هغوی به هیڅکله دخپل هیواد غیږې ته دراتګ لپاره زړه ښه نه کړی دهیواد په نوی راتلونکی اساسی قانون کې باید دا خبره هم سپینه شي چې که چیرې څوک غواړی چې په افغانستان کې دنده اجراء کړی باید په افغانستان کې خپل کورونه ولري اوله بهر څخه خپل کورونه راولي. په بهر کې دچارواکو کورونه څو نیمګړتیاوې رامخته کولای شي.

لومړی خو پخپله دنومورې چارواکی دکورنۍ غړی په بهر کې له بهر سره مینه اخلی اولاډیات روږدي کیږي اوله افغانستان سره یې مینه کمیږي اوکیدای شي چې دامکان په صورت کې خپل هیواد ته هم رانه شي.

دویم دا چې دلته دغه مسوول چارواکی دزیات رشوت اختلاص او نورو مدارکو څخه دپیسو دلاسته راوړو له پاره مجبوریږي اویا دا چې دنورو هیوادوالو له تورونو سره هم مخ کیږي. چارواکی مجبور دی چې وخت ناوخت دخپلو کورنیو دلیدلو لپاره لازمي اودلته دخپلې شعبې په مخکې په هفتو هفتو مراجعین په انتظار کې پاتې شي اصلاً دغه کار دیوه هیواد داصولو مخالف کار دی باید ټول هغه چارواکی چې کورونه یې په بهر کې دی دکارونو په سرته رسولو کې وی او که نه وی انتقالی مرکزی دولت باید اصلاحات له پاسه راپیل کړی او چې دچاکور دلته نه وی باید هغه سمدستی له وظیفې ګوښه کړای شي که څه هم دوزارت څوکۍ ولري.

د بیام وغاړونې پلور

متعدی صفحه اباسین

شکل بطی کمک های جهانی

در جریان کمک های ممالک جهانی اکنون گرجستان نیز مصمم است تا در بازسازی وآبادانی افغانستان سهم فعال بگیرد وروی سازنده را بازی بکند.

هفته گذشته سفیر گرجستان درکابل درملاقات که باوزیر پلان افغانستان آقای حاجی محمد محقق داشت از کمک های مملکت خود به افغانستان یادآورشد وتأکید کرد که کشور وی تصمیم دارد باپروسه بازسازی شاهراه سالنگ کمک های مالی وتخنیکی خود را هماهنگ سازد. تا کنون دررابطه به موضوع جزئیات زیادی روشن نشده اماسفیر کشور مذکور در افغانستان امید وار بود تاکمک های خود را به مقامات دولتی افغانستان بسپارد.

قبل ازین هم چندین بار ممالک جهاني متعهد شده که راه های ترانزیتی، مواصلاتی جاده ها.و راه های فرعی را که به اثرجنگ های طولانی داخلي تخریب شده از سر اعمار نماید وبه پروسه بازسازی افغانستان که به همکاری جهانیان آغاز یافته د ست دهد. اما تاکنون مردم افغانستان به این چنین کمک های وعده شده به نظر شک مینگرد. مردم ادعا می کند که کشور جاپان، ایالات متحده امریکا وعربستان دراواسطه سال گذشته کار اعمار سرک کابل کندهار را اعلام کرده بود اما تا امروز به اثر علل وعوامل مجهول به تعویق می افتد.

همچنان کار اعمار سرک های کابل - جلال آباد ویا جاده های بزرگ درشمال کشور که تونل سالنگ وسرک آن نیز درهمین کنگوری بشمار میاید چندین با راز طرف کشور های مختلف اعلام شده وعملاً کارآن تاهنوز آغاز نشده است.

مردم افغانستان که چندین سال جنگ های مرگ بار را متحمل شده وامروز فرصت بازسازی کشور خودرا بدست آورده از چنین دونرهای وعده کننده تقاضا می نماید تا عملاً دست بکار شود. نه تعهدات فردا و پس فردا.

کار شناسان وصاحب نظران چنین ابراز می کنند که اگر در بازسازی افغانستان هر قدر شفافیت و در کار های آن جنبه عملی پیاده شود. هوشدار هنای تروریزم، قاچاق وتولید مواد مخدرو اختناف انسانها که امروز به تمام جهان بشری متوجه است از بین خواهد رفت واگر ممالک جهانی در تصمیم خود که در مورد ساختن یک افغانستان با ثبات دراذهان می پرورد قاطع نشود بار دیگر افغانستان به لانه اضرار جهانی مبدل خواهد شد.

افغانستان هم ټریوال بانک ته لاره ومومنده

دا موضوع له یوې خوا د پانګه اچونکو پاملرنه راګرځوی اوله بلې خوا دهغو سیاسی ګوابنونو په وړاندې یو ډول تضمین ګڼل ګیدای شي چې غواړی پدې جنګ ځپلی هیواد کې پانګه اچونه وکړی. دنړیوال بانک یوچاراواکی په واشنګټن کې دجمعی په ورځ وویل: افغانستان دروان کال دجون له 16 نیټې وروسته دپانګوالی دیوه داسې سازمان غړیتوب ترلاسه کړ چې دپانګه اچونې څو اړخیزتضمین لري اودې جنګ ځپلي هیواد ته دغه زمینه برابره شوه چې د دې بانک له مالي زیرمو څخه ګټه پورته کړي. دغو اړخیزه پانګه اچونې یا میګاد سازمان غړیتوب هغو خلکو یا مؤسسو ته اجازه ورکوي چې غواړي په افغانستان کې پانګه اچونه وکړي. او دسیاسی ګوابنونو په وړاندې تضمین شوی وي.

سره له دې چې افغانستان له 23 کلنې جګړې وروسته له ډیرو ستونزو سره مخ دی خو دبیا رغاونې په وړاندې ورو. ورو ګام پورته کوي. درپوټونو له مخې اټکل کیږي چې پدې هیواد کې لږ ترلږه په سلو کې ۷۰% نفوس دسوء تغذی سره مخامخ دی په سلو کې ۲۳ یې دځښاک روغتیایی اوبه ترلاسه کوي او یوازې په سلو کې شپږ یې دبریښنا دانرژی څخه کار اخیستلای شي. ددې جنګ ځپلې هیواد دبیارغاونې لپاره لږ ترلږه ۱۵ تر ۲۰ ملیاردو ډالرو ته اړتیا شته اچونې ۳۵۰۰ وړاندیزونه ثبت شوی دی چې دپانګې اچونې اندازه یې له ۲۰ زرو څخه تر ۱۸۰ میلیونو دالرو پورې رسیږي. خود امنیتی وضعې له املې دغه وړاندیزونه په هوا دریدلی دی. دمیګا یا څو ارخیزې پانګې اچونې دتضمین سازمان مرستیال دغو مسئلو ته په پام سره پدې هیواد کې دخصوصی پانګې اچونې رول خاص اهمیت لري دافغانستان دسوداګرۍ وزیر سید مصطفی کاظمی دوه میاشتې مخکې دپانګې اچونې په یوه غونډه کې وویل چې دسوداګرۍ په وزارت کې لږ ترلږه دپانګې موتومچی په واشنګټن کې دیوې اعلامیې په ترڅ کې وویل: میګا کولای شي دبیارغاونې لپاره دپانګه اچونې دجلبولو په خاطر دپانګه اچوونکو داندیښنو او هیلو ترمنځ یوپول رامنځ ته کړي. دمیګا مرستیال زیاته کړه: «مونږ د یو شمیر سالمو او ګټورو پروژو په هکله دعلاقه لرونکو پانګه والو څخه وړاندیزونه ترلاسه کړي دی خوهغوی دخپلو پانګو دمصئونیت په اړه اندیښنې لري. خو بانک کولای شي دتروریستی اقداماتو په ګډون دپانګه اچوونکو لپاره دانتقال دمحدودیتونو دمارکیټ (سلب) دقرار دادونو دنقص اود کورنیو ناارامیو په وړاندې تضمین برابر کړي. دافغانستان دمالیې وزیر اشرف غنی احمدزی وویل «مونږ خوښ یو چې دمیګا غړیتوب پداسې حال کې ترلاسه کوو چې دګټورو اړیکو لپاره پل ته لیوالتیا لرو کیدای شي چې مطلق له همدې لارې دبیوزلې ولسونو اقتصادی ستونزې حل شي. ده تیره میاشت په خپلې یوې بیانیې کې ویلی و افغانستان په راتلونکو پنځو کلونو کې له (۳۰) ملیاردو ډالرو څخه زیاتې مرستې ته اړتیا لري چې له نیستی او جنجالونو څخه خانونه وژغوري داسیایی بانک داټکلونو له مخې په افغانستان کې دتیر کال دټول ناخالص ملی محصول اندازه ۴.۴ میلیارده ډالرو ته رسیدلې چې پدې توګه ددغه هیواد سرانه عاید ۱۷۰ ډالره وو.

دکنړې ولایت کې دکرنیزو څېړنو مرکزي فارم

ددې لپاره چې هېواد دکرنې له پلوه پر خان بسیا او ګاونډیو هېوا دونو ته اړ نشي دکرهنې دخپړ نیزو فار مونو بیا رغول یې له اساسي ټکو څخه دي. دبیا جوړونې په لړ کې دکندوز ولایت مرکزي فارم هم یو خل بیا له اغزن چا پیر یال څخه دشني کروندې څېښتن شو.

دکندوز ولایت دکرنیزو څېړ نومرکزی فارم چې یو مهال له مشهورو فا رمو نو څخه ګڼل کېده او دهېواد دشمالي ولایاتو دتکثیري او اصلاح شوو تخمونو ددرلودلو له پلوه خورا غني فا رم ګڼل کېده .دتېروجګړو په ترڅ کې له کاره غورځېدلی واو توله ساحه یې هرزه ګیاوواواغزیو نیولې وه خو اوس داپکا رډادنړیوالې موسسې له خوا ببرته خپل پخوانې حالت ته ګرزېږي او غوره لاداچې اوس پکې دبېلا بېلو بوټو اومېوو قوریې جوړې او دتکثیري او تجربوي پرو ګرامونو له پلوه پر مخ روان دی.

په افغانستان کې دبریښنا سیستم

په افغانستان کې دبریښنا دتولید موجودې کارځانې په ساعت کې یوازې ۳۰۰ میګاواټه بریښنا تولیدوی پداسې حال کې چې دغه هیواد لسګونو زرو میګاواټه بریښنا ته اړتیا لري. دبریښنا وزارت درپوټونو له مخې اوس دافغانستان په سلو کې پنځه خلک دبریښنا له نعمت څخه برخمن دی.

ددغه وزارت معین محمد یونس نواندېش وایی: «مونږ دخپل انکشافی بودیجې او پروګرام له مخې پلان جوړ کړی چې سږ کال ۴۳ پروژې شروع کړو اود ټول هیواد دانرژی دتامین لپاره یولس کلن پلان مونږ برابر کړی دی.»

دا مهال ددې پرځنګ کې چې دافغانستان دزیاترو ښارونو خلک دبریښنا له انرژی څخه برخمن ندی دمجاهدینو دخپل منځنی جګړو په وخت کې دکابل ښار دزیاتره سیمو دبریښنا شبکې هم له منځه تللي دي ددغه راز سیمو اوسیدونکی خواشینی دی چې دبریښنا دنشتوالی له وجې دژوند له ټولو اسانتیاوو څخه بې برخې دي دبیلګې په توګه په نلونو کې دځښاک داوبو پخوانی سیستم چې دبریښنا د نه موجودیت له کبله روغتیایی چارو ته ګوابنې ګرځیدلی. یو شمیر نور خلک بیا شکایت کوي لدې کبله چې بریښنا نشته دوی اړدی چې دخپلو تولیدی چارو دترسره کولو لپاره دبریښنا دتولید لپاره له جنراتورونو کار واخلي دوی وایی چې د ماشینوتو لوی لګښت دکار په کمیت او کیفیت ناوړه اغیزه کوي.

ګڼ شمیر پانګوال هم شکایت کوی چې دبریښنا دنه شتوالی اولږ والي له وجې یې اړونده کار خاني او فابریکې نشي کولای په ټول ځواک سره تولیدی چارې پرمخ یوسی پداسې حال کې چې ښاغلي نواندیش وایی: دنړیوالو مرستو په رابللو سره یې دکابل دارونده شبکو دبیا رغاونې لپاره تیاری نیولی دی خو پوښتنه داده چې که دکابل ښار دغه ټولې شبکې جوړې شي دسروبی . ماهیپر او نغلو په کارخانو کې به تولید شوی بریښنا دټولو شبکو دبریښنا اړتیا پوره کولای شي؟ ځواب منفی دی ځکه دغو فابریکو یوازې دکابل ښار د ۷۰ زره استوګنې لپاره لازمه بریښنا ۲۲۰ کیلو واټو یولین کابل ته وغزوی تر هغه وخته پورې چې مونږ پخپله وکولای شو انرژی تولید کړو باید له وارداتی انرژی څخه استفاده وکړو. دازبکستان له دولت سره د ۱۵۵ میګاواټه قرار داد امضا شوی دی.

چارواکی وایی چې ددغه لین دغزولو لپاره نه دآسیایی چارواکی وایی دا له دې املې ده چې دهیواد دبریښنا داوسنیو فابریکو زیاتره تخنیکی پرزې له کاره لوېدلي دي. دبریښنا په برخه کې انجنیر محمد امین منصف خبرداری ورکوی چې دکابل په ختیځ کې دنغلو ماهیپر اوسروبی . په هلمند کې کجکی او په جلال آباد کې د درونټې کارخاني ونه رغول شي نو کیدای شي چې دوخت په تیریدو سره تولیدی فعالیت بیخی په ټپه ودریږي پداسې حال کې چې دبریښنا وزارت چارواکی وایی د نړیوال بانک د ۱۵ میلیون ډالرو مرستو یوه برخه به دهمدغو کارخانو په بیارغاونې ولګول شي ددغه وزارت چارواکی داهم وایی ترهغه چې په هیواد کې دبریښنا دتولید کچه لوړیږي دبدخشان تخار او کندوز دولایتونو ځینو برخو ته به دتاجکستان څخه. مزار شریف ته له ازبکستان او دهرات ښار ته به د ایران څخه بریښنا وپیري. خو دپکتیا خوست اوپکتیکا په یو شمیر ولایتونو کې چې له بهر څخه ورته دبریښنا دلیږدولو امکانات نشته له ډیزلي ماشینونو څخه کار اخستل کیږي دنوانديش په وینا دا ډول سیمو ته ډیزلي ماشینونو له بهر څخه را وړل شوی او ځینو سیمو ته توضیع شوی او کیدای شي ډیر ژر نور هم راورسیږي.

دکنړ کوکچی او امو په څیر دخپاندې سیندونو په لرلو سره کار پوهان باور لري چې افغانستان دبریښنا دتولید دومره لوړ ظرفیت لري چې نه یوازې خپلې اړتیا پوره کولای شي بلکې بهر ته پې هم لیږدولی شي خو دا هر څه وخت کا دروتو او پیسو ته اړتیا لري چې موجود دولت دم ګړی دا ډول امکانات په لاس کې نه لري.

دو کتوران شفاخانه رافلزناکام شدند

لاله ولادن جدا شدند اما یکجا رفتند

سخنگوی گروه جراحان شفاخانه رافلز سنگاپور، که عمل جدا کردن لاله و لادن بیژنی، دوگانگی های به هم پیوسته ایرانی، در آن صورت گرفت، اعلام کرد که هر دو خواهر در اثر عوارض پس از عمل جداسازی وفات یافته اند.

صبح روز سه شنبه، ۸ جولای، خبر جداشدن دوگانگی ها پس از دو روز عمل جراحی انتشار یافت اما بعداً اعلام شد که لادن بیژنی به زودی پس از جدا شدن از خواهر خود جان داده است.

لاله بیژنی نیز ساعاتی بعد به خواهرش پیوست.

دوکتوران گفته بودند که به دلیل اینکه در جریان عمل بیماران خون زیادی از دست دادند، فشار خون آنان بی ثبات بود و خطر مرگ، دوگانگی ها را تهدید می کرد.

این عمل جراحی، که در آن بیش از سی دوکتور و یکصد دستیار اتاق جراحی شرکت داشتند، دو روز به طول انجامید.

جراحان گفته بودند که جراحی بسیار ظریف بودند.

لاله و لادن بیست و نه سال قبل متولد شده بودند.

به گفته جراحان، گرچه مغزهای آن دو به طور مستقل کار می کرد، اما در طول زمان به تدریج در بخش هایی در هم فرو رفته و جداکردن آنها را بسیار دشوار کرده بود.

عمل جداکردن این دو نفر نخستین جراحی در جهان برای جداکردن دوگانگی های بالغی بوده است که از ناحیه سر به هم متصل بودند.

جداکردن مغز دوگانگی ها به کندی پیش رفت و پس از چندین ساعت، سرانجام خاتمه یافت.

از آنجا که آنها دارای یک رگ مشترک خون رسان به مغز بودند، جراحان قبلاً با پیوند رگ اضافی امکان خون رسانی به دو مغز جداگانه را فراهم کرده

اعلامیه محاذ ملی اسلامی افغانستان

بنام خداوند بخشاینده مهربان!

محاذ ملی اسلامی افغانستان با پیروی از اوامر رب جلیل که اخوت و برادری را میان مسلمانان جهان وبخصوص همسایگان حکم کرده است وبه تأسی از پالیسی مدبرانه دولت انتقالی اسلامی افغانستان که روابط برادرانه و دوستانه را با همسایگان تاکیدوتائید می نماید.

آرزو مندی قلبی خویش را در رابطه با حسن همجواری وزندگی صلح آمیز باکشور های برادر ومسلمان همسایه ابراز داشته ویکبار دیگر بر تحکیم مناسبات برادری و برابری میان مسلمانان ساکن در کشور های افغانستان وپاکستان تاکید کرده اظهارامید واری می نماید.

محاذ ملی اسلامی افغانستان قلباً آرزومنداست تا رنجش های موجود میان دولتین افغانستان و پاکستان از طریق مفاهمه ونشست های مخلصانه در فضای اخوت اسلامی حل وفصل گردیده وصلح و صمیمت میان کشور ها ومردمان مان قایم و دایم بماند.

مادر حالیکه حملات ناجوانمردانه یک تعداد افراد ماجرا جو وبی بندوبار را به حریم دیپلوماتیک کشور اسلامی پاکستان به شدت تقبیح می نماییم از درگاه ایزد متعال تمنا داریم تا ملت های مانرا از شعله های جنگ، نفاق و برادرکشی در امان دارد.

به تمنای سعادت وخوشبختی های هرچه بیشتر مردمان مسلمان افغانستان و پاکستان.

رهبری محاذملی اسلامی افغانستان

ایجاد شورای نظامی درپروان

مقامات ولایت پروان بخاطر جلوگیری از ناامنی ها در مناطق مربوط دست به ایجاد یک شورای نظامی زده اند با آنکه به گفته مقامات آرامش و ثبات در سراسر ولایت پروان حاکم است اما درین اواخر مواردی از قتل و سرقت در مناطق مختلف این ولایت بوقوع پیوسته است. که گفته می شود این اعمال عمدتاً به وسیله افراد مسلح غیر مسوول صورت میگیرد.

دافغانستان حقوقي سيستم دبشر دحقوقو دساتتي توان نلري

دومره پام ندی شوی چې د ډیرې مودې لپاره په ډیره ناوړه حالت کې ژوند کوی دغه راز راپور وایی چې بندیان ډیر مهال په نابسیا بسترو او خوړو باندې ژوند کوي پداسې حال چې ډیر ځورول شوی هم دی دغه راپور وایی چې دنارینه ساتونکو له خواد میرمنو بندیانو سره دناوړه چلند راپورونه هم شته. دبښنې نړیوالې ټولنه وایی لدې چې دزندان کارکوونکی سالمه روزنه نلري اودمیاشتو میاشتو راهیسې ورته معاشونه ندې ورکړل شوي. دې کار ستونزه نوره هم زیاته کړې ده.

سقوط طیاره در سودان

یک طیاره مسافربری با بیش از یکصد سرنشین در سودان سقوط کرده است. گزارش رادیوی دولتی سودان حاکی از آن است که به استثنای یک کودک دوساله، تمامی سرنشینان طیاره در این حادثه جان خود را از دست داده اند.

خبرگزاری رسمی سودان از قول مقامات آن کشور نقل کرده است که یکصد و پنج مسافر و یازده خدمه با این طیاره مسافرت می کردند.

طیاره مسافربری از نوع بوئینگ ۷۳۷ در مسیر پرواز از شهر پورت سودان، واقع در سواحل بحر احمر، به خرطوم، پایتخت سودان، دچار حادثه شد.

قبل از سقوط، پیلوت در تماس با برج مراقبت بروز نقص فنی در طیاره را گزارش کرده بود.

جوانی مانع غارت یک منزل رهایشی درمکروریان شد

مقاومت یک جوان باشنده بلاک ۱۳۷ مکروریان سوم سبب شد تا دزدان مسلح بعد از زخمی ساختن وی پا بفرار بگذارند.

خبر نگار اراده گزارش میدهد: حوالی ساعت نه و سی صبح روز سه شنبه چهار نفر مسلح که دو تن آنها یونیفورم نظامی به تن داشتند می خواستند اموال آپارتمانی را در منزل چهارم بلاک ۱۳۷ بغارت ببرند با مقاومت نذیر مسکونه منزل اول دهلیز اول بلاک متذکره مواجه شدند، دزدان چاره را حضر دیدند، او را به مرمی زده و خود بواسط موتر تیزرفتاری که در اختیار داشتند پا بفرار گذاشتند. نذیر در قسمت پا زخم برداشته است به شفاخانه انتقال شده و. موظفین پولیس منطقه قضیه را تحت تحقیق قرار داده اند.

سیاست ها وبرخورهای...

از جهت دیگر تا کنون روشن نیست شخصیکه مامور امضای چنین موافقتنامه یی بوده چگونه دولت را در جریان چنین مسأله یی نگذاشته است.

حقیقت اینست که وزارت امور خارجه دولت انتقالی اسلامی بیش از هر مرجع دیگری درین قضیه باید مطلع می بود و از همان آغاز این رخداد را که در مناسبات بین المللی و دیپلوماسی افغانستان بی اثر نمیتواند باشد، پیگیری میکرد.

با نشر اعلامیهء وزارت امور خارجه و انتشار کنفرانس مطبوعاتی رئیس دولت انتقالی اسلامی افغانستان، به نظر میرسد که رویداد های اخیر ناشی از یک سوء تفاهم و معلول یک برخورد شتابزده بوده است، و اگر چنین است، پس معلوم میشود که تنظیم کنند گان سیاست های خارجی کشور در بر خورد با مسایل و رخداد ها دیدگاههای واحد و کاملا مشخصی ندارند.

پرسش اینست که وقتی چینل های تفاهم و دیپلوماسی ما نمیتوانند هماهنگی پیدا کنند، مطبوعات و حلقات دور از عرصه دیپلوماسی و سیاست خارجی چگونه میتوانند با مسایل برخورد مشخص، اکتیف دقیق و ریالیستیک داشته باشند و دچار سوء تفاهم نه گردند واز رفتن به بیراهه برحذر باشند. این واضحست که دیپلوماسی و سیاست، با هر نوع انعطافی پهلو می گیرد، ولی این پهلو گرفتن ها نباید در حدی باشد که مردم را در سردرگمی عجیبی فرو ببرد.

و آنانرا نسبت به قضایا در چنان موقعیتی قرار بدهد که با واقعبینی فاصله بسیار داشته باشند بنا برین ایجاب می کند که مراجع مسوول در چنین مواردی به هماهنگ ساختن حقایق و رویداد ها بپردازند تا سیاست خارجی و دیپلوماسی ما با واقعبینی و استواری توأم گردد.

هیچ فنیاد تو این گفته وارشادنشد

ابو حسیب

وای ماکاین وطن از جور تو آزاد نشد!
سالهارفت ولی از تو دلی شاد نشد!
پای ماندی توبه تالاق سر ما ایوای!
کیست آنکس که زدست چوتو بر بادنشد؟
آنچه وحشی گری کردی تو درین ملک هلا!
قرنهارفت ولی برسر اجداد نشد
همه از گشنگی مردیم درین عصر ولیک
ازیکی دست به این غمزده امداد نشد
هستی این وطن از دست تو از دست برفت
کوهمان گنج که با غفلت تو باد نشد
چور ازدست تو چون صبغه قانونی یافت
بستی تودست ودهن زان به تو ایراد نشد
گشتی بااجنبی همدست وجفا ها کردی
ریخت آب رخ و هیچت ایزاد نشد
سالها هرچه که گفتند، همانی تو همان!
هیچ فنیاد تو این گفته وارشاد نشد

In This Issue:

1- Iranian Twin Die
2- Pakistan Embassy Closed In Kabul
3- Plane Crash In Sudan
4- Pakistani Embassy In Kabul Attacked
5- Robbers Injure A Youngman
6- Security Council Formed In Parwan
7- Comments Of Afghani And Pakistani Spokesmen
8- Second Day Demo Against Pakistan
9- Reconstruction Page

ارادہ
زیرنظرهیات تحریرانتشار میباشد
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: ظهور افغان
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر۹۵)
تلیفون موبایل: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷ - ۰۷۰۲۷۹۳۰۴
اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد

ERADA Daily
Weekly Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Fuonder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Zuhoor Afghan
Mobil Phone: 070279304 Mobil Phone: 070224787
eradadaily@hotmail.com Engineerjamil_amiry@yahoo.com
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: انجنیر محمدجمیل "امیری" و محمدعارف "لودین"
چاپ:مطبعه مرکزنشراتی افغان
قیمت یک شماره ۲ افغانی